**د دنیا او آخرت کامیابي**

04:58:18 17-02-2008

رالیږونکی : عبدلوهاب بلال

د دنیا او اخرت د کامیابۍ لپاره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لخوا ښودل شوي پنځه ویشت رهنما اصول

حضرت خالد بن ولید (رض) فرمايي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځای کې موجود وم چې ناڅاپه یو بانده چي راغی او وې ویل چې زه یو څو پوښتني کول غواړم.

بانده چي وویل نبي علیه السلام وفرمایل

(١) زه شته من جوړېدل غواړم (١) قناعت کوه

(٢) زه د ټولو نه لوی عالم جوړېدل غواړم (٢) تقوای خپله کړه

(٣) زه عزت والا جوړېدل غواړم (٣) د مخلوق په وړاندې لاسونه مه غزوه.

(٤) زه ښه سړی جوړېدل غواړم (٤) مخلوق ته نفع رسوه ښه سړی به شې

(٥) زه انصاف دار جوړېدل غواړم (٥) چې څه د ځان لپاره خوښوې هماغه د نورو لپاره هم وښوه

(٦) زه طاقتور جوړېدل غواړم (٦) په الله عزوجل باندې توکل کوه.

(۷) زه د الله تعالی خاص بنده جوړېدل غواړم (۷) د الله ذکر زیات زیات کوه

(۸) زه غواړم چې رزق مې پراخه شي (۸) تل په اودس کې اوسه

(۹) غواړم چې دعاګانې مې قبولې شي (۹) حرام خوړل پرېږده

(۱۰) زه کامل ایمان غواړم (۱۰) اخلاق دې ښه کړه ایمان به دې کامل شي

(۱۱) غواړم چې د قیامت په ورځ الله سره د لیدلو پر مهال ښکلی یم
(۱۱) د جنوب کېدو نه پس سمدستي غسل کوه

(۱۲) غواړم چې ګناهونه مې کم شي (۱۲) زیات زیات استغفار کوه

(۱۳) د قیامت په ورځ د نُور نه پاڅېدل غواړم (۱۳) ظلم کول پرېږده

(۱٤) غواړم چې الله پاک په ما رحم وکړي (۱٤) د الله پاک په بنده ګانو رحم وکړه

(۱۵) زه د عیبونو نه بچ کېدل غواړم (۱۵) د خپلو وروڼو عیبونه پټ ساته

(۱٦) زه د ذلت نه بچ کېدل غواړم (۱٦) زنا کول پرېږده

(۱۷) زه د الله پاک او د هغه د رسول (ص) محبوب جوړېدل غواړم (۱۷) چې څه د الله او د هغه د رسول خوښ وي هماغه خپل کړه

(۱۸) زه د الله پاک فرمانبردار جوړېدل غواړم (۱۸) د فرضونو د ادا کولو اهتمام کوه

(۱۹) زه احسان کولو والا جوړېدل غواړم (۱۹) د الله تعالی عبادت داسې کوه لکه چې وینې یې

(۲۰) د ګناهونو نه به مې کوم عمل خلاصوي؟ (۲۰) اوښکې، عاجزي، مریضتیا

(۲۱) کوم عمل به مې د ګناهونو نه معافي راکوي (۲۱) د دنیا په مصیبتونو صبر کوه

(۲۲) کوم عمل به مې د الله پاک قهر سوړ کړي؟ (۲۲) پټه پټه صدقه ورکوه

(۲۳) د ټولو نه غټه ګناه کومه یوه ده؟ (۲۳) بداخلاقي او بخل

(۲٤) د ټولو نه غټه نېکي کومه یوه ده؟ (۲٤) ښه اخلاق، عاجزي او صبر

(۲۵) زه د الله پاک د غصې نه بچ کېدل غواړم (۲۵) په خلکو غصه مه کوه

ابن ماجه